# د درد په کلام کښې هُنري ښکلاګانې

# DA DARD PA KALAM KE HUNARI KHKULAGANE

Dr Tariq Mahmood Danish *

**Abstract**

This research paper aims at exploring the artistic and rhetorical beauty in the poetry of "Rahmatullah Dard", fo’using on the Interplay of eloquence (fasahat) and rhetoric (balaghat) as es’ential elements of literary expression. Drawing on classical theories of Shibli Naumani, Altaf Hussain Hali, and others, the study highlights how Dard employs devices from ilm-ul-bayan (such as simile, metaphor, metonymy, and kinaya) and Ilm-ul-badi’ (such as antithesis, repetition, allusion, and parallelism) to enrich meaning while maintaining simplicity and naturalness. While some critics note his limited reliance on stylistic embellishments, the paper argues that this very quality underscores his mastery of “sahl-e-mumtani‘”—an effortless style that appears simple but is artistically profound. Through textual examples, It demonstrates that Dard balances clarity with depth, using accessible diction, subtle imagination, and regional flavor to convey themes of love, emotion, morality, and socio-cultural realities. Ultimately, the paper positions Dard’s poetry as a unique blend of tradition and innovation, where beauty lies not in artificial ornamentation but in sincerity, freshness of Ideas, and the harmonious fusion of thought and art.

**Key Words:** Rahmat Ullah Dard,Pashto , Literature,Poetry.

انسان چې هرکله څۀ خبره کول غواړي نو د خپل مقصد څرګندولو د پاره د ښۀ نه ښۀ انداز خپلولو هڅه کوي خو په دې هڅه کښې کامیابېږي هغه خلق چاته چې دا معلومه وي چې د مقصد څرګندولو او په هغې کښې اثر پېدا کولو د پاره فصاحت او بلاغت ضروري توکي دي۔

د فصاحت معنیٰ ده څرګندوالے ، جمله چې د کومې ژبې وي چې د هغې د امروزه مطابق وي ، دروندوالے ، اوپره والے او بازاري الفاظ په کښې نۀ وي ، په غوږونو بده نۀ لګي د لُغاتو کتلو محتاجه نۀ وي یعني ګران ټکي نۀ لري او د عامې قاعدې مخالف نۀ وي۔ ۱

* Assistant Prof GPGC Bannu

د فصاحت په حقله مولانا شبلي نعماني په خپل کتاب شبرالعجم کښې ليکي:

" فصاحت کی تعریف اگرچہ اہل فن نے منطقی طور پر جنس و فصل کے ذریعہ سے کی ہے یعنی حرفوں میں تنافر نہ ہو، لفظ نادرالاستعمال نہ ہو، قیاس لغوی کے مخالف نہ ہو، لیکن حقیقت یہ ہے کہ فصاحت کا معیار صرف ذوق اور وجدانِ صحیح ہے، ممکن ہے کہ ایک لفظ میں تنافرِ حروف، ندرت استعمال، مخالفتِ قیاس کچھ نہ ہو باوجود اس کے وہ فصیح نہ، یہ بھی ممکن ہے کہ ایک لفظ بالکل نادرالاستعمال ہو اور پھر فصیح ہو، غیر زبان کے الفاظ جو کبھی ہم نے استعمال نہیں کیے تھے بلکہ ہمارے کانوں میں نہیں پڑے تھے اول اول جب ہم سنتے ہیں تو ان میں سے بعض ہم کو فصیح معلوم ہوتے ہیں اور بعض نامانوس اور مکروہ، حالانکہ ندرت استعمال میں دونوں برابر ہیں"۔ ۲

او د بلاغت لغوي معنیٰ کمال ته رسېدل دي ولې په ادب کښې د موقعې او محل مناسب فصيحو خبرو کولو ته يا ته بلاغت وئيلے شي يعني هغه قاعدې زده کول چې په هغې کښې کلام اثرناک ، خوندور او موزون جوړېدے شي دې دپاره دوه څيزونه ډېر ضروري دي يو دا چې د يو مطلب او مفهوم د اظهار د پاره مختلفې طريقې بيانول ئې زده وي چې د موقعې په اعتبار هغه طريقه يا انداز خپل کړے شي او دويم دا چې په کلام کښې ښائست او خوبي پېدا کړے شي او د بلاغت علم دا دواړه قاعدې لري يوې ته علم بيان او بلې ته علم بديع وئيلے شي۔ ۳

د جامع اللغات په حواله د بلاغت معنیٰ ډاکټر مزمل حسين څۀ داسې کوي:

"جامع اللغات" کے مطابق بلاغت کے معانی ہیں: "خوش گفتاری، شیریں کلامی، خوش بیانی، فصاحت، بلوغ، پختگی، ایک علم جو اعلیٰ قسم کی خوش گفتاری سکھاتا ہے۔ اس کی تین شاخیں ہیں یعنی علم معانی، علمِ بیان اور علم بدیع" ۴

د علم بيان معنیٰ که څۀ هم څرګندول دہ خو په ادبي اصطلاح کښې هغه خبرې ته وئيلے شي د کومې په ذريعه چې يو شاعر اديب او نقاد د خپل مطلب څرګندولو د پاره د ښو الفاظو انتخاب کوي۔ چونکه د خبرې مطلب څرګندولو د پاره الفاظ کارولے شي نو د الفاظو مجموعې ته کلام وئيلے شي۔ خو دلته اصل خبره دا ده چې لفظونه دوه ډوله وي :

۱۔ هغه لفظونه کوم چې په خپلو لغوي معنو کښې استعمالېږي۔

۲۔ هغه لفظونه کوم چې په مجازي معنو کښې استعمالېږي۔

که يو زمري ته زمرے ووئيل شي نو دا به د ټکي لغوي استعمال وي خو که د بهادرۍ په وجه يو بهادر سړي ته زمرے ووئيل شي نو دا به مجازي استعمال وي۔ په علم بيان کښې هم دا

مجازي معني په استعمال کښې راوستلې شي ولې چې د لفظونو مجازي استعمال په مفهوم کښې کمے زياتے راولي ـ په حقيقي يا لغوي معنو کښې دا فرق نۀ راځي ـ لکه که څوک سترګو ته سترګې ، لېمۀ يا کسي ووائي نو خبره به هغه وي خو که څوک ورته د ميو پيالې ، مېخانې ، تلابونه يا سمندر ووائي نو په کښې يو خوند پېداشي کوم چې د ويونکي مقصود وي ، د لفظونو دا مجازي استعمال د علم بيان موضوع ده ـ

د لفظونو په مجازي معنو کښې د کارولو درې طريقې دي :

۱ـ چې د يو لفظ مجازي مراد واخستے شي او د دغې لفظ د حقيقي او مجازي معنو په مېنځ کښې د تشبيه تعلق وي نو هغه استعاره وي ـ

۲ـ د دې په عکس چې د حقيقي او مجازي معنو تر مېنځه د تشبيه نه علاوه بل څۀ تعلق وي يا څۀ داسې قرينه لري چې د هغې نه مجازي معنىٰ معلومېږي نو هغه مجازِ مرسل وي ـ

۳ـ چې د يو لفظ نه مجازي معنىٰ مراد وي او حقيقي معنىٰ هم ترې اخستے شي او دحقيقي معنې په وسيله ئې مجازي معنې ته ذهن رسي نو هغه کنايه وي ـ

په اصل کښې دا درې واړه د علم بيان ارکان دي خو هرکله چې د استعارې د پوهېدو د پاره په تشبيه پوهېدل ضروري دي د دې وجې نه د علم بيان د پاره تشبيه څلورم رکن ګرځولے شوے دے ـ حالانکه په تشبيه کښې د لفظونو استعمال مجازي نۀ وي ـ په دې څلورو واړو ارکانو پوهېدل ضروري دي ـ

خو دلته د علم بيان د دې ارکانو د تفصيل نه ډډه کوو ولې چې دا بيا ځان ځان له بېل بېل موضوعات دي نو ځکه اوس راځو د بلاغت دويمې قاعدې علم بديع ته :

علم بديع په اصطلاح کښې هغې علم ته وائي چې د کلام ښائست پرې معلومېږي ـ د علم بديع قاعدې په کلام کښې راوستلو سره په کلام کښې حسن پېدا کېږي دا درې قاعدې دي:

۱ـ قواعدصرف ونحو

۲ـ علم بديع

۳ـ علم بيان

خو د دې حسن مشروط دے د بې تکلفۍ سره ولې چې په تکلف سره استعمال ئې تصنع پېدا کوي او د کلام مفهوم او حسن ته نقصان رسوي ـ دا خبره مولانا حالي په مقدمه شعروشاعري کښې داسې کوي چې:

"د کلام بنیاد په صنائعو بدائعو کېښودل معاني ته نقصان ورکوي او کلام بې اثره کوي او لوستونکي دا ګڼي چې شاعر د تصنع نه کار آخستے دے. ۵

مولانا شبلي په شعرالعجم کښې لیکي:

" اګرچې د دې نه انکار نۀ شي کېدے چې ډېر صنائع داسې هم وي که چرې هغه په بې تکلفۍ سره راشي نو په کلام کښې حسن پېدا کوي ولې عام حالت دا دے چې صنائع بدائع شاعري خرابوي. ۶

د دې دواړو خبرو نه دا څرګندېږي چې که چرې صنائع بدائع بغېر د قصده او بې تکلفۍ نه په کلام کښې راشي نو هغه ښه وي او د ستائنې وړ وي او که چرې داسې ونۀ شي نو د کلام خوند به خراب شي.

هم دغه وجه ده چې ډاکټر چراغ حسېن شاه صاحب د درد صاحب په حقله دا خبره کوي چې:

" خیال او فن ئې هم اهنګه دي. خو یو څو خبرې به ځنې ملګري ضرور محسوس کوي. د درد په کلام کښې تشبیهات او استعارې ډېرې کمې دي. داسې د صنائعو بدائعو د تکلف نه ئې ځان بچ ساتلے دے. د دوئي کلام د یو ښۀ لوستي بني ادم عشقیه شاعري ده. د مصرعو جوړښت ئې د نثر رنګ لري. خو کمال دا دے چې زیر و بم ئې چرته هم متاثر شوي نۀ دي چې د مروتو د پستې لهجې کمال دے. د درد صاحب هر فکر او خیال ځوان ښکاري چا چې لیدلے نۀ وي د هغه به ضرور دا خیال وي چې د غزل شاعر عمر به شلو دېرشو نه نۀ وي اوړېدلے. ۷"

د ډاکټر صاحب د بره ذکر شوې کمۍ په باره کښې ښاغلے احمدجان مروت د صفي الله ساحل حواله هم را اخلي لیکي:

" پروفېسر درد خپل جذبات ، محسوسات او پېغام قاري ته رسوول غواړي ځکه ئې ټول زور د معنې په ابلاغ دے او د شعر حسن ته ئې شعوري پام لرنه نۀ ده کړې. د شعر ښائست ئې د معنې په ندرت او د مضمون په جدت بنا کړے دے. د صنائع او بدائع سهاره یا د تشبیهه او استعارې په ګانه ئې تکیه نۀ ده کړې. "۸

په ظاهره خو ډاکټر چراغ حسېن شاه صاحب او صفي الله ساحل صاحب د درد صاحب په کلام کښې د صنائعو بدائعو د کمې په نوم تنقید کوي خو زما په خیال په دې رنګ کښې د درد

صاحب بې تکلفي او د سهل ممتنع کمال ظاهرول غواړي ګني د ډاکټر صاحب بل اقتباس هم وګورئ:

" غرض درد صاحب خپل ښکلي د مينې جذبات او رموز د شعر په تار پېئلي دي چې په کښې فني پختګي ده او د سهل ممتنع بهترين مثالونه دي. نازک خيالي ، انفراديت ، رنګين بياني ، شوخي ، بې ساختګي ، سادګي او رواني ئې لاجواب دي. جذبات ئې سنجيده سپېڅلي او ريښتوني دي. د شعر ابلاغ ئې يو زړهٔ راښکونکے انداز لري. د مينې جذباتو ، واقعاتو، تاثراتو او وارداتو ئې ښکلې منظرکشي کړې ده چې ذهن او زړهٔ دواړهٔ متاثر کوي. د هر غزل موډ ئې تر اخره يو ساتلے دے خواه که هغه د خوشۍ موډ دے ، د غم او که د انقلاب او د رومان. اشعار ئې ساده او زر فهم کښې راتلونکي دي خو د روايت او د جدت يو ښکلے امتزاج لري. جذبې او رومان کښې ئې د اخلاقياتو يو معيار قائم ساتلے دے . په خپل چاپېرچل کښې دروانو معاشرتي، سماجي ، معاشي او سياسي حالاتو او تبديليانو نه بې نيازه نهٔ دے د پښتون لوړ او غېرتي تخيل او زړهٔ سواند جذبات لري. فکر ئې لا ځوان دے . پسته ، نرمه او خوږه علاقائي لهجه ئې په کار راوستې ده. مروتوال ټکي او ترکيبونه ډېر په روانۍ سره ښهٔ په ځائے استعمال کوي. تغزل ، اختصار او شېريني ئې د کلام خاصه ده."۹

هم دغه خبره ښاغلے احمد جان مروت صاحب په جوابي صورت کښې داسې کوي :

نو دا د دوئي خپله رائې ده. زهٔ د دوئي دغې رائې احترام کوم خو اتفاق ورسره ځکه نهٔ کوم چې زما په خيال چې د درد په کلام کښې هر کله معنیٰ جوته او برڅېره ښکاري نو هغه هم د دغه فني ښکلاګانو د ښکلي او په موقع استعمال په وجه ده. خو کمال دا دے چې درد هره تشبيه ،هره استعاره ، او هره کنايه او هر صنعت په داسې نادره ، اسانه او روانه پېرايه کښې استعمال کړے دے چې هر چا ته د دې ادراک نهٔ کېږي. او معنیٰ ئې دومره اسانه کړې وي چې قاري په معنیٰ پسې لاړ شي او تشبيه او استعاره يا صنعت ته د هغه پام لرنه نهٔ کېږي. خو دا صرف د درد کمال دے. هر شاعر داسې نهٔ شي کولے دا د هر هغه شاعر کمال او خاصه ګرځي چې هغه د سهل ممتنع انتها ته رسېدلے وي. ۱۰

د خپلې دعوې په ثبوت کښې ښاغلي احمدجان مروت د درد په کلام کښې د تشبیه ، استعارې ، کنائې او صنعتونو له پاره یو څو شعرونه هم وړاندې کړې دي۔

تشبیه :

درد دې چـــــې لوټلـــــــه خزانـــــــه د مـــــــخ
ســــــتا د تــــــورو زلفــــــو مــــــاران چرتـــــه وو

صنعت تلمیح:

نـــــن صـــبا داســـې یـــاران دي د یوســـف بـــرادران دي
چـــې د چـــا ځــومره دوســـتان دي هغـــه هــومره بدنصـــیب د ے

د مجاز مرسل غیر مرتب او صنعت تضاد نمونې:

"چـــې وعـــده وکـــړې هنـــد کې غونـــدې پـــه شـــا شـــې
چـــــې انکـــــار وکـــــړې نـــــو کلکـــــه پښـــتنه شـــــې"

د مجازمرسل مرتب مثال :

مینـــــه د لمســـــي وي کـــــه د زوئ وي مینـــــه ، مینـــــه وي
زهٔ کـــه پـــه محســـن او پـــه احســـان کښـــې فـــرق کـــولے شـــم

د صنعت تضاد مثال:

د عاشـــــــــقانو ســـــــــادګۍ تـــــــــه ګـــــــــوره
لـــــــه پســـــــتو شـــــــوندو کلـــــــک لوظونـــــــه غـــــــواړي

د صنعت ارسال المثل:

نـــــهٔ ځـــــي لـــــه ګـــــل رخـــــو بـــــې رخـــــي نـــــهٔ ځـــــي
ســـــر د ســـــړي لاړ شـــــي خـــــو عـــــادت نـــــهٔ ځـــــي

زړهٔ مـــــې داغـــــي او ماتـــــه حـــــق د ګیلـــــې نـــــهٔ راکـــــوي
"خپلـــــې اوبـــــهٔ پـــــه لـــــوړه بیـــــائي" زورور د ے هغـــــه

د استعارې مثال:

"تــول رنګونـــه مـــې راغونــډ شـــي پـــه ککـــو کښـــې
چـــــې دروګـــــــورم او زېـــــــړه زرغونـــــــه شـــــې"

لمـــر وۀ ســـپوږمۍ وه بـــلا ســـتوري وو دې خـــاوره کښـــې
مـــــوږ ورتـــــه ولـــــې د آســـــمان پـــــه نظـــــر ونـــــۀ کتـــــل

زۀ دې ارمـــــان يـــــم مـــــا د زړۀ لـــــه کـــــور وتـــــل نـــــۀ دي زده
زۀ اوښـــــکه نـــــۀ يـــــم چـــــې بـــــه داســـــې پـــــه آســـــانه وځـــــم

درد پـــه مـــا ګـــران دے خـــو لـــه وصـــل ئـــې ډاريږمـــه زۀ
زۀ د شـــبنم پســـته قطـــره يمـــه او لمـــر دے هغـــه

د صنعت تدبيج مثال ئې داسې ورکړے دے :

مخونـــه ئـــې کـــه ســـپين دي زړونـــه تـــور لکـــه ګنـــاه دي
لاســـونه ئـــې تـــک ســـرۀ لکـــه قصـــاب وينـــه تـــرې څـــاڅي

پـــــه ســـــرو ســـــرو شـــــونډو ســـــره ســـــرخي لګـــــوي
پـــــه ســـــرو لمبـــــو کښـــــې ســـــرۀ ګلونـــــه کـــــري

صنعت حسن تعليل:

چـــې بدلـــه ئـــې پښتـــو پـــه مصـــلحت کـــړه
دا کـــــردار مـــــې د افغـــــان ليـــــدلے نـــــۀ وے

جنونـــــــه ! زۀ دې منفـــــــرد نـــــــۀ کړمـــــــه
د ژونـــد يـــو کـــار مـــې پـــه رغبـــت ونـــۀ کـــړو

د ايهام يوه نمونه :

پـــه مـــا بـــه ډېـــر وکـــړئ احســـان ملګـــرو !
مـــا کـــه هـــم وبـــولئ انســـان ملګـــرو !

د صنعت لف و نشر یو مثال:

پــه خُلــې دې ګــوړې شــه قاصــده! خــو زبــان دې شــل شــه
دا تــهٔ څــهٔ وائــې چــې زمــا غونــدې غمجــن وهٔ جانــان

علم بیان:

ډاکټر مزمل حسین په خپل تحقیقي او تنقیدي کتاب " اردو میں علم بیان اور علم بدیع کے مباحث" کښې د علم بیان تعریف داسې کوي:

" علم بیان اس علم کا نام ہے جس کے جاننے اور سمجھنے سے ایک بات کو کئی طریقوں اوور مختلف حوالوں سے بیان کرنے میں آسانی رہے اور ہر طریقہ اور ہر حوالہ دوسرے حوالے یا دوسرے طریقے کے مقابلے میں بات کو زیادہ واضح اور دلچسپ بنادے اگر مختلف طریقوں یا حوالوں میں معنی کے لحاظ سے موضوع ایک ہی نہیں ہو گا تو یہ بیان کے زمرے میں نہیں آئے گا۔ اس علم کا مقصد یہ ہے کہ انسان زیادہ سے زیادہ دلالتوں سے فائدہ اٹھاتے ہوئے لفظ و معنی کی متنوع جہتوں اور پہلوؤں سے آگاہی حاصل کرے۔" ۱۱

د علم بیان غټ غټ ارکان دا دي: تشبیه ، استعاره ، مجازِ مرسل او کنایه.

تشبیه:

هر کله چې انسان د څهٔ څیز په حقله د خپلې مدعا یا څهٔ وئیل غواړي د هغې د پوره او په ښهٔ ډول د ادا کولو د پاره یو څیز د بل څیز په شان ګرځوي. چې لوستونکي پرې ښهٔ په آسانه پوئ شي د خپلې خبرې یا مدعا دې اظهار ته تشبیه وائي. تشبیه د علم بیان یو اهم رکن دے.

د تشبیه لغوي معنیٰ د مشابهت ، په شان ، په څېر ، په مثل ده. یعني یو څیز د څهٔ خاص صفت په وجه د بل په شان ګرځول. د درد په کلام هم تشبیهات شتون لري لکه :

غشــــي چــــې کــــاږهٔ وي هــــدف نــــهٔ لګــــي
ســــتا بانــــهٔ کــــاږهٔ دي خــــو رســــا لګــــي
شــــډل حســــن د مروتــــو پــــه ویــــاړو کښــــې
لکــــه ګــــل چــــې شــــګفته وي پــــه ازغــــو کښــــې
د اشــــنا قیصــــې بــــه ولــــې خــــوږې نــــهٔ وي
خونــــد د شــــونډو ئــــې شــــامل وي پــــه قیصــــو کښــــې

پـه سـر مـې بلـې لمبـې يـوړې خـو مـاحول مـې روڼ کـړو
لکـــه د شـــمعې تـــر ســـهار پـــورې راورســـېدم
ځـــواني د ښـــاپېرو د کلـــي شـــپه ده اې ملګـــرو!
هـــوا بـــه شـــي آخـــر د ګـــل وږمـــه ده اې ملګـــرو!
آســـمان ئـــې پـــه ســـر تنـــدر وروي کـــه ســـپينې واورې
ولاړ پـــه خپـــل مقـــام لکـــه د غـــرۀ وي ځنـــې خلـــق
د عشـــق فطـــرت هـــم د پښـــتون فطـــرت دے
پـــه هـــيڅ صـــورت رقيبـــان نـــۀ قبلـــوي

استعاره :

دا خبره مخکښې هم شوې ده چې هر کله يو ټکے په هغه معنیٰ کښې استعمال شي د کومې دپاره چې جوړ وي نو هغې ته حقيقت وئيلے شي. او د دغې نه علاوه په هره معنیٰ کښې استعمال شي نو هغې ته مجاز وئيلے شي. د حقيقي او مجازي معنو په مېنځ کښې يو خاص تعلق وي که چرې دا تعلق د تشبيه وي نو ورته استعاره وئيلے شي او که د تشبيه نه علاوه بل څۀ وي نو هغې ته مجاز مرسل وئيلے شي. د استعارې لغوي معنیٰ قرض آخستل دي او په حقيقت کښې د تشبيه مختصر کولو او په کښې مبالغې پېدا کولو ته استعاره وئيلے شي استعارې هم د درد په شاعرۍ ډېرې دي چې يو څو ترېنه دا دي :

بلـــــــې ډېـــــوې دي اننګـــــــې دې نـــــۀ دي
کلــــــه چــــــې وي نقـــــاب دې اور اخلــــــې
لا دې بانـــــــۀ هغســــــــې کـــــــارۀ ګـــــــوري
خـــــوئي لـــــه پښـــــتنو د عـــــداوت نـــــۀ ځـــــې

کنايه :

د کنايې لغوي معنیٰ په پټ انداز کښې خبره کول دي چې د مدعا وضاحت په کښې ونۀ شي. ولې په اصطلاح کښې دې ته وئيلے شي چې يو لفظ د خپلې حقيقي معنې په ځاے په مجازي معنیٰ کښې داسې استعمال شي چې هم حقيقي معنیٰ ورکوي او هم ترې مجازي معنیٰ مراد آخستے شي خو مراد ترې حقيقي معنیٰ نۀ وي. لکه که يو سړے ووائي چې ما وينتۀ په نمر نۀ دي

سپین کړي نو دا کنایه ده او مطلب ئې دا دے چې زۀ پوهېږم ، تجربه مې ډېره ده د درد صاحب په کلام کښې کنایې هم شته دي لکه په دې شعرونو کښې :

زلفـــې ئـــې کـــه ډېـــرې پـــه ســـر وختـــې
کـــم بـــه ئـــې کـــړي زور د لالـــي ســـرې شـــونډې
دا تـــــۀ څـــــۀ رنګـــه ســـاقي ئـــې
زۀ لا هغســـــــې هوښـــــيار يـــــم

مجاز مرسل :

کله چې يو ټکے د خپلې حقيقي معنې نه علاوه په بله معنیٰ کښې استعمال شي. او په حقيقي او مجازي دواړو معنو کښې ئې د تشبيه تعلق نۀ وي بلکه څۀ داسې قرينه په کښې موجوده وي چې د هغې په وجه تربنه مجازي معنې مراد اخستې شي. دې ته مجاز مرسل وئيلے شي. د مجاز مرسل څۀ نمونې دلته هم کتلے شئ :

"ســـــترګې او زۀ" دواړه لا تراوســـــه پســـــې ژاړو
ښـــه وشـــوه چـــې پـــاتې مـــې شـــو زړۀ پـــه مدينـــه کښـــې
هغـــــه نظـــــر څـــــۀ بـــــل نظـــــر وۀ درده!
هســـــې خـــــو يـــــار ټـــــولې دنيـــــا تـــــه کتـــــل
خپـــل مســـيحا تـــه هـــر ســـړے پـــه انتظـــار ولاړ دے
يـــو زۀ خـــو نـــۀ يـــم زمـــا شـــاته واړه ښـــار ولاړ دے

## علم بديع

"یہ وہ علم ہے جس سے کلام میں ایسے لفظی و معنوی محاسن پیدا کیے جاتے ہیں جو مقتضائے حال ہوتے ہیں اور کلام میں معنوی و لفظی پیچیدگی کے بجائے ایک خوشگوار سا تاثر پیدا کرتے ہیں۔ علم بدیع اپنے معنی کے مصداق کلام میں اچھوتا پن اور نادرہ کاری کا باعث بنتا ہے چونکہ یہ کلام کی آرائش و زیبائش لفظوں اور معنوں کے حوالے سے کرتا ہے اس لیے اس کو دو اجزا میں منقسم کیا جاتا ہے۔"۱۲

صنائع لفظي:

صنعت حسن تکرار: (دوه ځليزه استعمال د يو ټکي)

د دې مختلف قسمونه دي يو قسم په کښې تکرير مطلق دے. دا هغه صنعت دے چې شعر په کومه حصه کښې يو لفظ مکرر راوړلے شوے وي لکه په دې شعر کښې:

سود به هله وکړم چې د سود نه بې نيازه شم
زيان کښې يم، ترخو چې سود او زيان کښې فرق کولے شم

صنعت سياق الاعداد: (د عددونو په کار راوستل)

په کلام کښې د عددونو ذکر کولو هندسو يادولو ته صنعت سياق الاعداد وئيلے شي لکه د درد صاحب په دې شعر کښې:

يا به ستا غمونه ګرځوم يا د دنيا لانجې
سل واړه قيصې مې په دې سر کښې نۀ ځائيږي

ردالعجز علي الصدر:

د شعر اولنۍ حصې ته صدر وائي او آخرنۍ حصې ته عجز وئيلے شي "عجز" د عربۍ ژبې ټکے دے وروستو برخې د بدن ته وئيلے شي. کله کله شاعر د ښائست پېدا کولو د پاره د شعر اولنۍ الفاظ په آخر کښې بيا دوباره راوړي او کله کله خو روغه نيمه مصرعه دوباره راوړي د د درد صاحب شعر د نمونې په توګه کتلے شئ:

اور مې په زړۀ پورې کړو تنکے ارمان
لګي له ماشوم نه په کالۀ کښې اور

صنعت تجنيس: (د يو جنس ټکي يا مشابه ټکي په جدا معنې ګانو راوړل)

د تجنيس لغوي معنیٰ د هم جنس کېدو ده. په کلام کښې دوه داسې لفظونه راوړل چې په تلفظ کښې يو شان وي ولې معنې ئې جدا جدا وي. هغې ته تجنيس وئيلے شي. د درد صاحب په کلام کښې صنعت تجنيس هم ځاے په ځاے موندۀ شي لکه دا شعر:

" درد نه دې قضا کړو د ليلا ديدن
خداے خو دې رقيبه قضا راوله
درد سره که نۀ وېشې دردونه هېڅ پروا نۀ شته
تۀ د خپلې برخې کهکشان راسره اووېشه
د درد غزل مې له درد واورېدو بې تاب ئې کړمه
ژوبل احساس، زخمي جذبې وې د شعرونو تر شا

زړۀ د خپـــل زړۀ کـــوي د هېچـــا مشـــوره نـــۀ منـــي
د محبـــت پـــه ضـــد د عقـــل فېصـــله نـــۀ منـــي
چـــې پـــه مـــړو ســـترګو مـــړ نـــۀ شـــم
درده! نـــور بـــه زۀ پـــه څـــۀ مـــرم

صنعت تجنیس مضارع: (د تقابل یا د تضاد مفهوم ورکول)

په کلام کښې داسې دوه لفظونه راوړل چې د حرفونو تعداد ئې یو شان وي خو صرف یو حرف په کښې مختلف وي داسې صنعت ته صنعت تجنیس مضارع وئیل شي د درد صاحب په کلام کښې هم دا صنعت شته دے:

تـــر عمـــره لا حاصـــله انتظـــار د جـــوهري کـــړي
ابـــرو کښـــې د هیـــرو غونـــدې پراتـــۀ وي ځنـــې خلـــق

سهل ممتنع: (د وس نه بهر آساني)

دا هغه خوبي ده چې په کلام کښې موجوده وي نو ډېر خلق وائي چې دا خو زۀ هم کولے شم خو که کوشش ئې کوي نو نۀ ئې شي کولے

د وصـــال پـــه خونـــد پـــوئے نـــۀ شـــوم
زۀ لـــــــه ډار د بیلتانـــــــــــۀ مـــــــرم
دا لا څـــــۀ پښـــتو ده چـــې دې هېـــر کړمـــه
داســـې پښـــتو وکـــړه رایـــادېږه مـــه
نـــۀ غـــوارم عېشـــونه درنـــه نـــۀ غـــوارم
اې د ځـــوانئ عمـــره خـــو تېرېـــږه مـــه

صنعت تدبیج: (د ښائسته کولو هنر)

چې په کلام کښې د ببلاببلو رنګونو ذکر راشي نو ورته صنعت تدبیج وئیلے شي لکه د درد صاحب په کلام کښې:

ســتا د شـونډو سـور انګـار بـه اخـر زړونـو تـه اور ورکـړه
ســرۀ رخســار بــه دې لالیــه! شــنۀ خــالونو تــه اور ورکــړه
جـــام او لـــه ســـاقي او لـــه شـــرابو نـــه
زړۀ بـــه مـــې کـــړي تـــور د لالـــي ســـرې شـــونډې

تــول رنګونــه مــې راغونــډ شــي پــه ککــو کښــې
چـــې دروګـــورم او زېـــړه زرغونـــه شـــي

صنعت تلمیح: (د اشارې کنایې هنر)

د تلمیح په صنعت کښې شاعر په کلام کښې تاریخي واقعاتو ته اشاره کوي. د درد صاحب په کلام کښې دا صنعت ځاے په ځاے موندۀ شي مثالونه ئې وګورئ:

زمـــا غټـــه کمـــزوري د حـــوا لـــور ده
د ادم بابـــا نمســـے یمـــه ســـړیو
د پښـــتنو لـــه چـــوک مجلـــس ورک دے قیصـــۍ ورکـــه ده
نـــۀ ادم خـــان شـــته نـــۀ میـــرو شـــته درخـــانۍ ورکـــه ده
زۀ د نـــــن ورځـــــې جمشـــــېد یـــــم
نـــن زمـــا پـــه لاس کښـــې جـــام دے
د ګـــل رخـــي محبـــت تـــه د ایـــوب صـــبر پـــه کـــار دے
جـــدائي خـــو جـــدائي ده انتظـــار ئـــې رانـــه غـــواړي
ولاړ لکـــه حســـېن بـــه ئـــې هـــر وخـــت پـــه کـــربلا کښـــې
ســـاده بـــه وي چـــې غـــواړي څـــوک راحـــت پـــه زنـــدګي کښـــې
د بهلـــول غونـــدې دانـــا کـــړو راپېـــدا څـــوک
چـــې خبـــر مـــې کـــړي د عشـــق لـــه انتهـــا څـــوک
زۀ ئـــې د خوشـــحال غونـــدې پـــه جـــار مـــنم
ښـــکلي ګنـــي خلقـــه! د هرچـــا لګـــي
د نـــوح کشـــتۍ بـــه چـــې لا کلـــه راځـــي
د حـــق پـــه لار مـــو قدمونـــه جـــګ دي
هـــر ظـــالم تـــه مقابـــل یـــم
زۀ مظلـــوم د کـــربلا یـــم
زۀ د وخـــت حـــاتم طـــائي یـــم
محبـــت وېشـــم لګیـــا یـــم
زۀ نېلســـن یـــم ، زۀ ســـقراط یـــم
زۀ غـــلام د مصـــطفیٰ یـــم

صنائع معنوي: (د معنې ترمخه صنعت او رغونه)

صنعت تضاد یا طباق:

صنعت تضاد یا طباق په کلام کښې دوه متضاد لفظونو راوړلو ته وائي لکه رحمت الله درد په کلام کښې:

"چې خطا مې په خیرنو جامو نهٔ شي
زما زړهٔ د ائینې غوندې صفا دے
خپل قصور راته معلوم دے چې نادار یم
که مو خپل یمه پردے یمه سړیو
یا د وصال او یا د هجر شپه وي
عشق کښې فرمخت نهٔ وي خوبونه نهٔ وي
په مونږ ګمان که د رندو نهٔ کوي
مالي خزان ته سپرلے ولې وائي
د زلمیو په ټولي کښې د سرونو کمي نهٔ شته
د تیارو ملګري ډېر دي د رڼا ملګري کم دي
لکه سیماب په یو حالت نهٔ پاتې کېږم درده
کله رېله شم د خزان، کله رېله د سپرلي
خوښ یو په اعراف کښې که جنت دې راپیرزو نهٔ شي
مه کوه اقرار خو د انکار خبره مه کوه
چرت به ئې خراب کړې درد ته ذکر د غم مه کوه
ګل چې یادوې ورته د خار خبره مه کوه
مونږ کړے انتظار د پسرلي دے داسې وخت کښې
ازغي مو وو لمن کښې سرهٔ ګلونه په نظر کښې
درد هم خومره عجیب دے
هم باچا دے هم ملنګ دے
زما په زړهٔ کښې ئې ژوندے کړه مینه
د چا د مړو سترګو نظر داسې دے"
دا واړه اعجاز دې د سرو شونډو دے

تـــــۀ کـــــه دروغ هـــــم وائـــــې رښـــــتیا لګـــــي
دا د وصـــــل شـــــپه نـــــۀ ده چـــــې والـــــوزي
هجـــــر کښـــــې وي چرتـــــه ســـــحر دومـــــره زر؟

دا مــــو د زړۀ زغــــم دے پــــه ازغــــو کــــه مــــو راکــــاږي وخــــت
خلقــــو تــــه مــــونږ وایــــو د ګلونــــو ښــــار کښــــې اوســــو
چــــې شــــعور دې راپېــــرزو کــــړو ، چــــې زۀ "درد" دې ســــترګور کــــړم
بیــــا دې ولــــې زۀ پېــــدا کــــړم ، د ړنــــدو پــــه ښــــاریه کښــــې
د جــــونګړې ژونــــد دې نــــۀ تریخــــوي درده!
پــــر ســــکون کــــه اوســــېدل غــــواړي محــــل کښــــې

صنعت تضاد سلبي:

تضاد سلبي دا دے چې دوه لفظونه چې په خپل ذات کښې متضاد نۀ وي بلکه په هغې کښې د یوۀ لفظ سره د نفي تورے استعمالولو په ذریعه د تضاد کېفیت پېدا کولے شي او هغه دواړه لفظونه د یوۀ مصدر نه مشتق وي یو مثبت وي او دویم منفي او په هغو کښې د کوم یوۀ سره د نفي تورے استعمالولو سره تضاد پېدا کولے شي.

زۀ ئـــــې کـــــه مـــــوزون کـــــه نـــــاموزون ګـــــڼم
ســـــتا د خُلـــــې خبـــــره بـــــه قـــــانون ګـــــڼم

صنعت ارسال المثل: (د متل راوړلو هنر)

په کلام یا په جمله کښې متل راوړلو ته صنعت ارسال المثل وئیلے شي. په وفا کښې ئې مثالونه داسې دي:

زنـــــدګي پـــــه ګوشـــــې ســـــر کلـــــه تېرېـــــږي
پـــــه یـــــوۀ لاس بـــــه زۀ تـــــر کومـــــه وهـــــم تـــــاړي
لـــــه ازار نـــــه چـــــا بـــــازار جـــــوړ کـــــړے نـــــۀ دے
تـــــور مخـــــان بـــــه لـــــه دنیـــــا نـــــه ظالمـــــان وري
مـــــا بـــــه ولـــــې وېـــــل چـــــې "ګـــــل بـــــې خـــــاره نـــــۀ وي"
د ولـــــور رواج کـــــه نـــــۀ وي پښـــــتنو کښـــــې

صنعت لف و نشر: (د څیزونو راغونډولو خورولو کاریګري او هنر)

په کلام کښې د څو څيزونو د يو ځاے ذکر کولو نه پس داسې نور څۀ څيزونه ذکر کول چې د وړومبنو سره تعلق او مناسبت لري. د شعر هغه برخه چې وړومبي څيزونه په کښې ذکر شوي وي. هغې ته " لف " او دويمې برخې ته په کومه کښې چې وړومبنو څيزونو سره مناسبت لرونکي څيزونه راوړلي شوي وي " نشر " وئيلے شي

صنعت لف و نشر مرتب:

وخـــت مـــې لـــه زړۀ جانـــان بهـــر وباســـي
صـــدف بـــه مـــات وي چـــې ګـــوهر وباســـي
ګُـــوټ پـــه اور کښـــې ويلـــې شـــي زر پـــاتې شـــي
زړۀ نـــه هـــوس لاړشـــي ، محبـــت نـــۀ ځـــي
تـــۀ غـــزل ، زۀ غـــزل ګـــو يـــم
تـــۀ مـــې فـــن ، زۀ دې فنکـــار يـــم
تـــۀ ښائســـت ، زۀ محبـــت يـــم
تـــۀ يـــو ګـــل ، زۀ دې بهـــار يـــم

صنعت لف و نشر معکوس:

د لف و نشر يو قسم صنعت لف و نشر معکوس دے. دا هغه قسم ته وئيلے شي چې اول د څو څيزونو ذکر وشي او ورپسې د هغې سره د تعلق لرونکيو څيزونو ذکر د هغې نه په اپوټه ترتيب سره وکړے شي. درد صاحب ئې داسې استعمالوي :

چـــې پـــه مـــا بانـــدې ســـتم کـــوي کـــرم دے
چـــې پـــه بـــل بانـــدې کـــرم کـــړي ســـتم دا دے
حســـن څـــۀ تـــه وائـــي محبـــت څـــۀ وي
درد تـــــه او د درد اشــــنا تـــــه وګـــــوره

صنعت لف و نشر غير مرتب:

په کلام يا شعر کښې اول چې کوم څيزونه ذکر شوي وي د هغې سره تعلق لرونکي څيزونه ورپسې داسې ذکر شوي وي چې په ترتيب هم نۀ وي او اپوټه هم نۀ وي يعنې نۀ مرتب وي او نۀ معکوس بلکه بې ترتيبه راوړلے شوي وي. لکه په دې شعر کښې:

خـــوک پېغمبـــر شـــي څـــوک شــاعر شـــي درده!
پــــه چــا غـــزل ، پـــه چــا کتـــاب نـــازل شـــي

صنعت جمع: (د راغونډولو هنر)

په شعر کښې چې هر کله ګڼ څیزونه د یو حکم لاندې راوستې شي هغې ته صنعت جمع وئیلے شي.لکه د درد صاحب په شعر کښې:

درد ، خوشـي ، احسـاس ، وصـال ، هجـران راسـره اووېشـه
راشـــه او د عشـــق سروســـامان راســـره اووېشـــه
تـــــهٔ ښائســــــت زهٔ دې ســــــینګار یـــــم
ګلـــــې ســـــتا د غـــــاړې هـــــار یـــــم

صنعت تفریق: (د فرق بیانولو هنر)

په کلام یا په شعر کښې د یو نوعیت دوه څیزونه بیانول بیا د هغې دواړو په مېنځ کښې فرق راوستلو ته صنعت تفریق وئیلے شي لکه د درد صاحب په دې شعرونو کښې:

"زړهٔ او روح" مـــې دواړه لــــه ګــــلاب تروتــــازه وو
"ســــترګې او بانـــهٔ" کــــه وو لامـــده پــــه مدینـــه کښـــې
نــــاز او پـــه ســـتم کښـــې فـــرق آســـان نـــهٔ دے
ښـــکلي مـــونږ تـــه څکـــه بـــې وفـــا لګـــي
مینـــه د لمســـي وي کـــه د زوئ وي مـــین مینـــه وي
زهٔ کــه پــه محســن او پــه احســان کښــې فــرق کــولے شــم
درده! چـــې د دواړو احتیـــاج تـــه مـــې نظـــر وکـــړو
خــدائګو کــه ګــدا او پــه ســلطان کښــې فــرق کــولے شــم

صنعت تعلي: (د خپل ځان یا د خپل کلام د لوئے والي بیانولو هنر )

کله کله شاعران په کلام کښې او په خصوصي توګه په مقطع کښې د ځان یا د خپل کلام لوے والے بیانوي۔ نو داسې صنعت ته صنعت تعلي وئیلے شي۔ د درد صاحب په کلام کښې هم تعلي شته :

زمـــــــا بیـــــــــــــل انـــــــــــــــداز د ے درده!
نـــــــئ " ســـــــهیل " یـــــم نـــــــئ " افکـــــــار" یـــــم
ســــتا د درد غــــزل بــــه ولــــې رنګـــــین نــــئ وي
ســــتا د حســـن تــــول رنګونـــــه پــــه کښـــې نغــــاړي
هـــره یـــوه نغمـــه پـــه هـــر یـــو ســـاز ختلـــې نـــئ شـــي
مانـــــه درده ! غــــواړي " غـــــزل" ســــاز د محبــــت
غزلګــــــــو یــــــم د قلـــــم ښــــتن یـــم درده !
خـــو د ګـــل پــــه مـــخ کښـــې بیـــا هـــم بـــې زبـــان یـــم

صنعت تجاهل عارفانه: (د یوې معلومې خبرې نه ځان په زوره ناخبره ساتل)

په کلام کښې یوه معلومه خبره د خوند او لطافت پیدا کولو له پاره داسې بیانول لکه چې ویونکے ترې بې خبره وي. یعني د اشنا څیز نه ځان نااشنا کول داسې صنعت ته صنعت تجاهل عارفانه وئیل شي. درد صاحب دا صنعت هم په زړهٔ پورې راوړے دے :

چــــې زمــــا ســــره اظهــــار د محبــــت کـــــړي
ماتــــه ولــــې چــــې خنــــدا راځــــي جانانـــــه !

صنعت تعجب: (د حیرانتیا پیدا کولو هنر)

په کلام کښې د خوند پیدا کولو له پاره په څهٔ خبره حیرانتیا او تعجب ښکاره کولو ته صنعت تعجب وائي لکه د درد صاحب په دې شعرونو کښې:

"دا خبــر مــو کــه رښــتیا وي چــې وختونــه نــئ ودرېــږي
بیـــا د هجـــر شــپه ملګـــرو ! پـــه مـــا ولـــې نـــئ تېرېــږي
د رڼـــا پـــه ضـــد کښـــې درده ! کـــه زمـــا پـــه دشـــمنۍ کښـــې
هواګــــاني لېــــونۍ شــــي زمــــا شــــمع چــــې بلېــــږي
زمــــا د زړهٔ او د رقیـــــب څـــــئ عجیبـــــه رشــــته ده
دعـــا هـــم نــئ غـــواړي رقیـــب تـــه آزار هـــم نـــئ کـــوي
څـــــــئ عجیبـــــــه زمانـــــــه راغلـــــــه درده!
لېــــوني دشــــت کښــــې دیوالونــــه غـــــواړي
تـــــئ چـــــې ولـــــې خبــــر نـــــئ شــــوي
ګټهـــــــــي زړونـــــــه خـــــــو شیشـــــــې دي

خدایـــه! زمـــا ســـیمه چـــې بیـــا ولـــې ازغـــې ازغـــې ده
مـــا خـــو بـــه تـــل د بـــل پـــه لاره کښـــې کـــرل ګلونـــه

صنعت ایهام : (د وهم پیدا کولو هنر)

په کلام یا شعر کښې داسې لفظ راوړل چې د هغې دوه معنې ګانې وي یو نزدې او بله لرې خو په شعر کښې ترې د نزدې معنې په ځاے هغه لرې معنې مراد وي لکه د درد په دې شعر کښې :

پـــه مـــا بـــه ډېـــر وکـــړئ احســـان ملګـــرو!
مـــا کـــه هـــم وبـــولئ انســـان ملګـــرو!

صنعت تقسیم: (د شیزونو د جدا جدا کولو هنر)

په کلام یا شعر کښې ځنې شیزونه د ځنو نه جدا کولو ته صنعت تقسیم وئیل شي۔ دا صنعت هم د درد صاحب په غزل کښې موندهٔ شي لکه :

تـــهٔ ګـــلان ګجـــره کـــړه زهٔ بـــه زړهٔ کښـــې ازغـــې مـــات کـــړم
تـــهٔ چـــې خنګـــه غـــواړې ګلســـتان راســـره اووېشـــه
ماتـــه ســـپوږمۍ راکـــړه تـــهٔ لـــه ســـتورو لمـــن ډکـــه کـــړه
تـــهٔ راتـــه منصـــف شـــه او اســـمان راســـره اووېشـــه
زهٔ بـــه د بڼیـــا غونـــدې حســـاب درســـره نـــهٔ کـــوم
واړه ګټـــه واخلـــه خـــو تـــاوان راســـره اووېشـــه

صنعت استدلال: (د دلیل راوړو صنعت)

په شعر کښې شاعر یوه خبره وکړي او بیا د هغې ثابتولو د پاره دلیل راوړي۔ یعنې خپله خبره په دلیلونو ثابتولو ته صنعت استدلال وائي لکه د رحمت الله درد په لاندینو شعرونو کښې:

پـــه ډک محفـــل کښـــې مـــې چـــې تاتـــه کتـــل
خطـــا مـــنم خـــو مـــا بـــه چاتـــه کتـــل
مـــه غـــواړه پـــه عشـــق کښـــې اثـــر دومـــره زر
کـــوم یـــو بـــوټے نیســـې ثمـــر دومـــره زر
درد دې شـــاعر کـــړو ، زمـــانې تـــه دې وروپېژنـــدهٔ
لالیـــه! تاتـــه چـــې دعـــا نـــهٔ کـــوي ، څـــهٔ بـــه کـــوي؟

تـــــل ئـــــې ســـــتا غمونـــــه مېلمـــــه کـــــړي دي
زړۀ پـــــه دا خبـــــره زۀ پښـــــتون ګـــــڼم
ګـــــل تـــــه د هرچـــــا ســـــترګې وروا ړېـــــږي
زۀ کـــــه درتـــــه ګـــــورم خفـــــه کېـــــږه مـــــه

تاريخي استدلال: (د تاريخي دليل راوړلو هنر)

په دې کښې شاعر تاريخي استدلال يعني تاريخي دليل وړاندې کوي لکه په دې شعر کښې:

زړۀ مـــې کـــه پښـــو د لانـــدې مـــړې دا دې زوړ عـــادت د ے
تـــۀ چـــې وړه وې تـــا بـــه ګوتـــو کښـــې مښـــل ګلونـــه

صنعت ادماج:

په کلام يا په شعر کښې داسې خبره کول چې په کښې د اصل مفهوم سره ضمناً بله معنیٰ هم په کار راوستې شوې وي لکه په دې شعر کښې:

ښـــکلي دغســـې عـــاري دي لـــه وفـــا نـــه
لکـــه نـــۀ شـــته اتفـــاق پـــه پښـــتنو کښـــې

صنعت حسن تعليل: (د ښائست سبب يا علت راوړو هنر)

دا يو ډېر نازک او لطيف صنعت د ے ، شاعر څۀ شي د پاره داسې يو علت او سبب فرض کړي چې په حقيقت کښې ئې هغه سبب او وجه نۀ وي خو شاعر ورله هغه فرضي سبب او علت ګرځولے وي۔

تـــا چـــې تـــورې کړلـــې لا نشـــه نشـــه شـــوې
جـــوړ شـــراب دې وو لړلـــې پـــه رنجـــو کښـــې
پتنـــــګ د زړۀ لـــــه ســـــوزه اور اخلـــــي
دا شـــمع هســـې پـــه ســـر تـــور اخلـــي
څـــــوک ئـــــې وليدلـــــه درده!
د ګـــــلاب پـــــه مـــــخ خـــــولې دي

صنعت مراعات النظير: (د يو شان مناسبت لرونکو څيزونو راجمع کول)

په کلام يا شعر کښې داسې الفاظ راوړل چې د يو سلسلې وي او خپلو کښې مناسبت لري تضاد په کښې نۀ وي لکه د درد صاحب په دې شعرونو کښې:

"د وینـــــــو داره" او "ســــــــاه" دواړه ووځـــــــي
زمـــــا لـــــه زړهٔ نـــــه چـــــې خبجـــــر وباســـــي
رازقـــــــه ربـــــــــه! د روزۍ د پـــــــــاره
مېښـــــدي لـــــه کـــــور بچـــــي نهـــــر وباســـــي
پښـــتو پـــالي، غیـــرت غټـــي ، درانـــهٔ وي ځنـــې خلـــق
مئـــین پـــه نـــام و ننـــګ وي پښـــتانهٔ وي ځنـــې خلـــق
مارغـــان والوتـــل لـــه جـــالو " تـــاڼ پـــه تـــاڼ " شـــول
چـــې مـــاحول واړه لـــوګي شـــو شـــجر وچ شـــو
درده! لـــه ګلونـــو د بـــورا غونـــدې خونـــد اخلـــه
هســـې د بلبـــل غونـــدې چغـــار نـــهٔ دے پـــه کـــار

صنعت مخاطبه: (ځان ته د خطاب کولو صنعت)

اکثر شاعران په شعرونو کښې ځان ته مخاطبه کوي دا په مطلع او مقطع دواړو کښې کېدے شي لکه درد چې ځان ته لګیا دے :

ســـتر ګې دې لمـــدې شـــوې چـــې یـــار غیـــر پـــه تـــا بدلـــه کـــړه
"درده" ســـتا د غـــم او د خنـــدا څـــهٔ پتـــه نـــهٔ لګـــي

صنعت رجوع: (خبره کول او بیا ترې وروستو کېدل)

په کلام یا په شعر کښې خپل مطلب مضبوطولو د پاره یوه خبره کول او بیا د هغې نه انکار کول او د هغې نه غوره خبره کول دې ته صنعت رجوع وئیلے شي لکه د درد په دې شعر کښې :

منمـــه چـــې ځـــان خـــوږ دے لـــه هرڅـــهٔ نـــه لـــه هـــر چانـــه
خـــو خـــدائے شـــته چـــې لـــه ځانـــه هـــم خـــواږهٔ وي ځنـــې خلـــق

په دا وړه شان مقاله کښې چې د درد صاحب کوم منتخب کلام د هنري ښکلاګانو په حواله مخې ته راغلے دا د هغوئي د یو ورکوټي کتاب " وفا" او د وړومبي کتاب " غزل" څهٔ برخه ده. یاده دې وي چې د دړد صاحب د غزلو ګڼ شمېر کتابونه نور هم شته چې په هغو کښې د دې نه هم زیات شعرونه امکان لري. که ژوند وفا وکړه نو په مجموعي کلام به ئې قلم پورته کوو. خو یوه خبره یو ځل بیا کوم وړاندې کوم هغه دا چې درد صاحب په خپل کلام کښې ذکر شوې ښکلاګانې په

شعوري توګه او ارادةً نۀ دي راوړې او نۀ په کښې څۀ تکلف ښکاري دغه وجه ده چې د سهلِ ممتنع حېثیت ئې ترلاسه کړے دے۔

دویمه خبره دا چې د دې تحقیق په دوران کښې په دا نتیجه ورسېدم چې که یو خوا هنري ښکلاګانې په کلام کښې ښکلا پېدا کوي نو بل طرف ته د شاعر او ادیب ډېرو کمیو، خامیو او تېروتنو ته جوازونه هم فراهم کوي۔

وړاندیز مې دا دے چې د درد صاحب په شان د دې سیمې په نورو ډېرو شاعرانو ادیبانو د دې نه ښکلے بشپړه کار کېدے شي خو که د دې سیمې په پوهنتونونو کښې د پښتو څانګې پرانستلې شي۔

## حوالې:

۱. یوسفزے ، مشتاق مجروح، پروفیسر ، زرکانړے ، جون ۱۹۹۸ ، تاج پرنټنګ پریس پېښور، مخ : ۳
۲.نعماني شبلي مولانا ، شبرالعجم (حصه چهارم) ، تعریف پرنټرز، ص: ۲۷
۳. یوسفزے ، مشتاق مجروح، پروفیسر ، زرکانړے ، ، مخ : ۵
۴. مزمل حسین ،ڈاکٹر، اردو میں علم بیان اور علم بدیع کے مباحث ، علی پرنٹرز، 19۔ اے ایبٹ روڈ ، لاہور ، ص: 16
۵.حالي ، خواجه الطاف حسین ، مقدمهٔ شعر و شاعري ، ۱۹۵۳ ، علمي کتب خانه اردو بازار جامع مسجد دهلي ،
۶. نعماني شبلي ، شعرالعجم ،۱۹۹۹ ، تعریف پرنټرز ،
۷. مروت احمد جان ، درد او مجذوب ، اکتوبر ۲۰۰۲ ، یونیورسټي پبلشرز قیصه خواني بازار پېښور، مخ : ۴۸
۸.همدغه اثر ، مخ: ۲۷
۹. همدغه اثر ، مخ: ۴۷
۱۰. همدغه اثر ، مخونه: ۲۸،۲۷
۱۱. حسین مزمل، ڈاکٹر، اردو میں علم بیان اور بدیع کے مباحث، جولائی 2010، علی پرنٹرز، 19۔ اے ایبٹ روڈ، لاہور، ص: ۸۰
۱۲.حسین مزمل ، ډاکټر، اردو میں علم بیان اور بدیع کے مباحث،جولائی 2010، علی پرنٹرز ، 19 ۔ اے ایبٹ روڈ، لاہور، ص: ۱۱۳

# References


1. Yousafzai, M. M. (1998, June). Zarkanay. Taj Printing Press, Peshawar, p. 3.
2. Naumani, S. (n.d.). Sher-ul-Ajam (Part IV). Tareef Printers, p. 27.
3. Yousafzai, M. M. (1998, June). Zarkanay. Taj Printing Press, Peshawar, p. 5.
4. Hussain, M. (n.d.). Urdu mein Ilm-e-Bayan aur Ilm-e-Badee ke Mabahis. Ali Printers, 19-A Abbot Road, Lahore, p. 16.
5. Hali, A. H. (1953). Muqaddama-e-Sher-o-Shairi. Ilmi Kutub Khana, Urdu Bazar, Jama Masjid, Delhi.
6. Naumani, S. (1999). Sher-ul-Ajam. Tareef Printers.
7. Marwat, A. J. (2006, October). Dard aw Majzoob. University Publishers, Qissa Khwani Bazar, Peshawar, p. 48.
8. Marwat, A. J. (2006, October). Dard aw Majzoob. University Publishers, Qissa Khwani Bazar, Peshawar, p. 67.
9. Marwat, A. J. (2006, October). Dard aw Majzoob. University Publishers, Qissa Khwani Bazar, Peshawar, p. 47.
10. Marwat, A. J. (2006, October). Dard aw Majzoob. University Publishers, Qissa Khwani Bazar, Peshawar, pp. 67–68.
11. Hussain, M. (2010, July). Urdu mein Ilm-e-Bayan aur Badi ke Mabahis. Ali Printers, 19-A Abbot Road, Lahore, p. 80.
12. Hussain, M. (2010, July). Urdu mein Ilm-e-Bayan aur Badi ke Mabahis. Ali Printers, 19-A Abbot Road, Lahore, p. 113